# دولت لواڼے او افادیت پسندي: فلسفیانه مباحث

Dulat Lawane and Utilitarianism: A Philosophical Discussion

Dr.Asal Marjan (Muhib wazir)*

**Abstract:**

Utilitarianism is a philosophical term, which is mostly associated with Ethical philosophy, but in this paper it is also presented in conjunction with Marxist philosophy. It focuses on welfare of maximum people, immediate welfare and Consequences. This philosophy does not give any special importance to Kantian Deontology. Utilitarianism emphasizes benefit or useful outcomes instead of outward or immediate beauty. It also considers how many people an can get benefit from an action.

Dulat Lawane, who is a prominent poet of the Roshani school of thought. Here, in this paper, various themes of utilitarianism in his poetry have been examined.

**Key Words:** Utilitarianism – Ethical – Marxist – Consequences – Poetry – Roshani – Impartiality - Welfarism

افادیت یا افادیت پسندي مونږ په خپل هره ورځني ژوند کښې ډېر ځلې کاروو او منډول هر څوک ئې په معنا او مفهوم باندې خبر هم دي. خو د فلسفې په ترخ کښې دا اصطلاح د انګرېزی د Utilitarianism د پاره وضع شوې ده. Utility (افادیت) څخه د Utilitarian (فایده مند) په لاره جوړه شوې اصطلاح ده چې معنا ئې افادیت پرستي ده چې وړومبنۍ نکته ئې د ښکلا په ځاے د افادیت خیال ساتل ده (۱)، دویمه نکته ئې د هر چا د خېر ښېګړې خیال ساتل دي (۲). د عربۍ ژبې افادت (علمي، روحاني، مادي فېض یا فایده)، افاده (فایده، ګټه، د ګټې خبره) څخه افادیت (فایده مند، ګټندوي/مفید کېفیت، د کوم څیز یا عمل د ګټندویې نظریه) جوړ شوے دے (۳). افادیت پسندي یوه اخلاقي فلسفه ده چې هر ګټندوي څیز خېر او ښېګړه ګڼي او د کومې رویې یا عمل ګټندوي (مفید) کېدل د اخلاقیاتو پېمانه ګڼي. یعني زیاتو نه زیاتو خلقو ته ګټه رسول، زیاتو نه زیاتو خلقو ته خوشحالي او سکون رسول د انسان د انفرادي عمل او رویې موخه هم پکار ده او د ټولنې

* Assistant Prof Pakhtunkhwa Study Centre Bacha Khan University Charsadda

یا ریاست د قوانینو مقصد هم پکار دے (۴)، افادیت پسندي اول په دوه شیانو زور راوړي: خوشحالي/سکون/امن زیاتول او تکلیف/مصیبتونو/مشکلاتو کښې کمے راوستل۔
د دغه دوو مقصدونو د پاره لاندیني څلور عوامل په پام کښې نیسي :

پایلیت/نتیجه خېزي: Consequentialism

خېر ښېګړه: Welfarism

مېنځګړتوب/غېرجانبداري Impartiality

ټولنیز/اجتماعیت: Aqqreqationism

مقصد دا چې هر هغه عمل یا رویه چې په اخري نتیجه کښې د انسانانو/ځناورو/فطرت د خېر ښېګړې سوب وګرځي۔ نتیجه د افادیت پسندۍ دومره مهم توکے دے چې هره رویه یا عمل په اخلاقي توګه هم د خپلې پایلې/نتیجې په ترڅ کښې سم یا ناسم ګڼي۔ د مثال په توګه که د یوې رویې یا عمل زیاتو خلقو ته فایده رسي ، نو دا به په اخلاقي توګه هم سم ګڼل کېږي او که زیاتو خلقو د پاره د نقصان/درد/تکلیف سوب ګرځېږي نو دا رویه یا عمل به په اخلاقي توګه هم ناسم ګڼل کېږي (۵)۔ په نورو ټکیو کښې دا د ایمانوېل کانټ (Immanuel Kant-1724/1804) د اخلاقي فلسفې فرضیت (Deontology) خلاف فلسفه ده ، ځکه د فرضیت فلسفه اخلاقي قاعدې فرض ګڼي ، یعني دروغ په هر صورت بد کار دے ، که اولس د لوږې نه مرۀ کېږي خو غلا ډاکه په هر شکل کښې جایزه نۀ ده ، یعني په اصولو عمل کول او خپل فرض پوره کول د دغې اخلاقي فلسفې بنسټیزه موخه ده (۲)۔ جې جې سي سمارټ (J. J. C. Smart-1920/2012) په دغه لړ کښې یو مثال وړاندې کوي چې یو کس یو بل کس د اوبو نه را اوچت کړو او د مرګ نه ئې وۀ ژغورلو ، وروستو دا کس اجرتي قاتل جوړ شۀ ، نو د پایلې/نتیجه خېزۍ منونکي وائي چې د دې عمل (د مرګ نه ژغورل) پایله ښه نۀ وه ، نو ځکه د افادیت پسندۍ منونکیو په نزد اخلاقي جواز نۀ لري ، ولې د فرضیت منونکیو په خیال هغه وخت دغې کس (ژغورونکي) ته دا معلومه نۀ وه چې دا به اجرتي قاتل جوړېږي نو لهذا د اخلاقو د اصولو او قاعدو په ترڅ کښې دا په خپل ذات کښې یو اخلاقي عمل دے (۷)۔ او داسې عمل او رویه هله مخې ته راتلے شي چې د مېنځګړتوب/غېرجانبدارۍ مظاهره وۀ کړے شي ، یعني دلته د اخلاقیاتو د اصولو او د پېښې د نوعیت په ترڅ کښې انسان باید منځګړے پاتې شي او دا منځګړتیا یو انسان د

اخلاقیاتو د اصولو موقف نه زیات افادیت پسند جوړوي چې ګټه ئې د یو فرد په ځاے اجتماع/ټولنه ته په شریکه وۀ رسي. په عمومي ډول هر کله چې د اخلاقیاتو د قوانینو یا اصولو په ترڅ کښې د یوې پېښې یا واقعې د جایزه/پلټنې/وړاندې کولو خبره مخې ته راشي، نو د خلقو خیال دا وي چې ګڼي دا د غېر جانبدارۍ خبره کېږي. کله کله په یوه نیمه جمله کښې اخلاقي قوانین/اصول او منځګړتوب (غېرجانبداري) یو ځاے د مترادفاتو په ترڅ کښې هم کارول کېږي، خو د منځګړتوب د نقطه نظر په توګه دا کومه سمه او علمي رویه نۀ ده (۸). د دې یو بل مثال داسې هم وړاندې کېدے شي چې د اخلاقیاتو مبلغینو په خیال دروغ په هېڅ قسمه حالت کښې جایز نۀ دي، ولې افادیت پسند دلته هم د اخلاقیاتو اصول یا فلسفه له منځه وۀ باسي او د انسانانو ګټه په نظر کښې ساتي خو دا ګټه د نورو انسانانو د تاوان په قیمت نۀ. البته کله کله (چې ښېخې بله لاره نۀ وي) ډېرو انسانانو ته د ګټې رسولو د پاره د لږو انسانانو په تاوان هم پښه کښېږدي.

افادیت پسندۍ تر ټولو د مخه د یوناني فلاسفر اپیي کورس (Epicurus- 341/270 BC) په افکارو کښې مخې ته راځي. وېلیم پالې (William Paley- 1743/1805) چې یو مذهبي سکالر دے او بیا جېرېمي بینتهم (Jeremy Bentham-1748/1832) دے چې د افادیت پسندۍ پلار هم ګڼل کېږي او څلورم نوم د جان سټوارټ مل (John Stuart Mill- 1806/1873) دے چې د افادیت پسندۍ په نوي توضیحاتو کښې یو مهم کردار لري.

دولت لواڼے (زوکړه: ۹۵۵ یا ۹۲۰ خوا و شا ـ مرګ: ۱۰۵۸ نه پس (۹)د روښاني شاعرۍ یو ډېر اهم او معتبر نوم دے. په بنیادي توګه د روښاني تصوف سره اړونده شاعر دے خو د خپل علمیت او غور او فکر په بنیاد ئې په کلام کښې څه داسې نمونې هم شته چې د اوسنۍ فلسفې (جدید فلسفې) په ترڅ کښې مبحث کېږي.

که وۀ کتے شي د اسلامي تصوف بنیادي اډانه هم د نفس په پاکوالي ولاړه ده چې موخه ئې انسانان پاک او صادق جوړول دي چې ګټه ئې ټوله ټولنه ته رسي او دا د هر مذهب په شمول د اسلام بنیادي تعلیمات هم دي چې موخه ئې انسان دومره پاکیزه جوړول دي چې بل هر انسان ئې د شر (هغه که د لاس وي، د ژبې وي او که د ژبې وي) څخه په امن وي. دا لاندیني شعرونه چې د مذهبي/ټولنیز اخلاقیاتو او اسلامي تصوف سره په څه نه څه شکل اړونده دي:

دا شپږ خویه دي بد شوم ځني حذر کړه
کبر ، حرص ، غضب ، شهوت ، طمع ، کینه ده
دا پینځه خصلته ونیسه ډېر ښه دي
که دې چرې د دین نغوتې افسانه ده
سخاوت ، شجاعت ، علم ، حلم ، ذکر
د ربنتیني مومن قسم پېشینه ده

(د دولت لواني دیوان: ۴۰۲)

په شیطان په نفس دې فتح مبارک شه
چې کم ګوی ، کم خور ، تنها شب زنده دار یې

(د دولت لواني دیوان: ۴۱۲)

د سکون تلاش هم د افادیت پسندو مفکرینو او شاعرانو بلکې د هر انسان مسئله پاتې شوې ده. ځنګه چې مونږ ورته په تېرو پاڼو کښې اشاره کړې ده. د دولت لواني لاندینے شعر کښې د افادیت پسندۍ دغه نمونه:

د سړي دغه عادت قدیمي شوے
له سړیو سره خوښ ، غمګین تنها شي
د مومن په مرګ بېلتون غمګین ډېر سود دے
دانه هاله زرغونېږي چې نیست لا شي

(د دولت لواني دیوان: ۴۱۴)

د افادیت پسندۍ یوه بله نادره نمونه ورسره داسې هم ده:

که د دوست پوشیده حال دې چا ته فاش کړ
د منصور په دود لایق په سر د دار یې

(د دولت لواني دیوان: ۴۱۱)

دغه شعر کښې د منصور ابن حلاج (Mansur Al-Hallaj-858/922) د پېښې یو نوے تعبیر خو په خپل ځاے ، چې د منصور کردار ته څومره عظمت بخښي ، خو دلته د شعر په

افادي اړخ که خبره کوو او د افادیت فلسفیانه مباحث سره ئې تړو ، نو وئیلے شو چې د حقیقت پسندو او اظهاریت پسندو په مقابل کښې افادیت پسند مصلحتونو ته هم دغه جواز لټوي چې د انسانانو ، د یارانو او ملګریو د ګټو وټو ، د زړهٔ ماتي ، د سپکتوب او بې عزتۍ په بدل دې ښېخي حقیقتونه وهٔ نهٔ وئیل شي ـ بلکې د رازونو په ساتلو باندې ځکه هم زور راوړي چې د رازونو د ښکاره کولو سره په ټولنه کښې د انتشار د پېدا کېدو احتمال وي ـ یعني اولسي/ټولنیزه ګټه ئې کېدے شي چې کمه وي او تاوان ئې زیات وي ـ د رازونو اهمیت په دوه قسمه دے یو خو د بل ملګري راز کوم چې امانت وي ـ په ټولنیزه توګه هم که یو څوک د ملګریو رازونه نهٔ شي ساتلے ، نو په ټولنه کښې خپل شخصیت له لاسه ورکوي ـ دویم قسم د یو ستر مقصد په خاطر ځینې خبرې یا اړخونه په راز کښې ساتل کېږي (۱۰) ـ بنیادي قیصه دلته هم د افادیت ده چې منصور ابن حلاج د هغه افادیت خیال وه نهٔ ساتلو ، ځکه د دولت په خیال د دار قابل وهٔ ګرځېدو ـ افادیت پسندي دا نهٔ ده چې انسان دې مدام په ښهٔ ژوند او په ډېرو ګټو وټو پسې سر وي ، بلکې بنیادي څیز سکون او خوشحالي ترلاسه کول دي ـ لاندې دوه شعرونه ئې د افادیت پسندۍ په ترڅ کښې د یو بل تناظر نه وړاندې کوو:

لـه ظالـم هوا پـرسته پـناه غـواړم
همېشه د مسکینانو سره ژواک را
د خندا ، هوس ، ښادۍ طلبګار نهٔ یم
ما بېکس لره رنځور زړګے غمناک را

(د دولت لواڼي دیوان: ۱۸۷)

وروستي شعر کښې خو که وهٔ ګورو نو په ښکاره د خوښۍ او خندا (یعني بې غمۍ ، سکون) نفي کوي ـ نو یو څوک دا سوال راپورته کولے شي چې دغه شعر کښې د افادیت پسندۍ چې د ښادۍ او خوښۍ طلبګاره اخلاقي فلسفه ده ، څه دي؟ خو دلته اول خبره دا ده چې په ذاتي اساس که د شعر تناظر ګورو ، نو یو انسان په اجتماع کښې خوښ وي ، بل په تنهایي کښې خوښ وي ، یو انسان په ښادیو کښې د زړهٔ سکون مومي ، ولې بل په درد او غم کښې لذت محسوسوي ـ دویم تناظر ئې دا دے چې دلته شاعر د ناصح کردار ادا کوي ، یعني هغه اولس ته مخاطب دے چې غمناک زړهٔ او د مسکینانو سره ژوند او ژواک

غوښتلو یا خپلولو کښې اجتماعي خوشحالي او سوکالي پرته ده ـ یعنې که هر څوک د مسکینانو سره ژواک خپل کړي او غمناک زړه وه لري ، نو نه به څوک مسکین پاتې شي او نه څوک غمګین ، ګرده ټولنه به سکون ، خوشحالي ، سوکالي، مینه ، تپاک او ښه ژوند وه لري چې د افادیت پسندۍ یو بنیادي نکته ده خو دغه بنیادي نکتې ته شاعر په غېر محسوس ډول ځان رارسولے دے ـ

په دغه تناظر کښې دا لاندیني شعرونه هم د افادیت پسندۍ اړخونه لري:

د عـوان په دود ظالـم دل ازار مـه شه
لکه طبیب په زخمي زړه باندې ملهم ږده
چې باقي د دین فایده دې پکښـې نه وي
په هغه لوري ډېر مه درومــه ، پل کم ږده
عمـارت په باد اوبو باندې په څه کړې
د خـانه بنیاد په ښه مقام محکم ږده

(د دولت لواڼي دیوان: ۱۱۳)

دا پورتني شعرونه که څه هم نېغ په نېغه د اخلاقیاتو یا وعظ او نصیحت سره تړاو لري ، ولې دا وعظ او نصیحت هم د ګټې یعني د افادیت پسندۍ په اساس دولت لواڼے بیانوي ـ

د افادیت پسندۍ په حقله وړاندې خبره وه شوه چې د نقصان نه ځان ژغورل دي او ډېره ګټه ترلاسه کول دي:

د دنیا تاجران واړه زیان کاران دي
زه په زړه ورځنې هر دم په نفرت یم

(د دولت لواڼي دیوان: ۳۲۰)

که څه هم مونږ ته معلومه ده چې د دنیا تاجرانو نه دلته مراد د دنیا په لارو چارو کښې دلچسپي اخستونکي خلق دي چې د دولت په نظر کښې زیان کاران دي ـ زمونږ د شعر د دغه مفهوم سره ډېر کار نه شته ، دومره کار مو دے چې دولت د نقصان نه د ځان او جهان د ژغورنې خبره کوي او د زیان نه د خپل نفرت اظهار کوي ـ دلته که مونږ وه ګورو نو د مذهبي تعلیماتو په اساس ولاړه افادیت پسندي ده ـ د افادیت پسندۍ فلسفیانه توضیح په لمحه موجود کښې زیاته نه زیاته ګټه اخستل او تر خپله وسه د کم نه کم تاوان ښخه ځان او ټولنه

ژغورل دي (۱۱) ولې د مذهبي او اخلاقياتو مطلق تعليمات او اصول په لمحه موجود کښې د ګټې په ځاے د تعليماتو او اصولو په اساس د ګټو وټو خبره کوي. د اخلاقي افاديت يوه بله نمونه چې مونږ ئې د فلسفيانه افاديت سره هم تړلے شو ، هم د لوستو ده:

د بل مـرګ په سترګو ويني بې غمي که
د نادان سړي زيات هېر وي د خپل ځان مرګ

(د دولت لواڼي ديوان: ۴۸۲)

ځيني وخت کښې ښايي فلسفيانه افاديت پسندي داسې ووائي چې د بل په مرګ دومره غمجن کېدلو ته هم اړتيا نۀ شته چې خپل ضرورتونه د انسان نه پاتې شي. خو د بل غم کښې بېخي نۀ غمجن کېدل به داسې وي ، لکه د ټولنيزې افاديت پسندۍ څخه بېخي انسان منکر وي. دلته د بل انسان غم او درد او تکليف څخه بې غمه کېدل د افاديت پسندۍ نفي کول دي.

څنګه چې ووئيلے شول چې خوښي/سکون د افاديت پسندۍ بنيادي توکي دي. انسان/شاعر خوښي لټوي ، سکون غواړي او دا چې ورته هر چرته ترلاسه کېږي ، هلته ځان رسوي ، منډه هم وهي ، سختۍ تکليفونه هم تېروي. اوس که داسې وي نو د دولت د شاعرۍ نه ئې يوه نمونه داسې وړاندې کوو:

که ئې سر له تنه بېل که خوښ به اوسي
په هېڅ کار ئې نۀ بدېږي له جانان زړۀ

(د دولت لواڼي ديوان: ۳۰۰)

يعني هر هغه عمل د افاديت پسندو په نزد غوره دے يا د قبوليت وړ دے چې خوشحالي او سکون پېدا کوي. د مثال په توګه قرباني هم سکون او خوشحالي پېدا کوي (۱۲) نو ګويا د دوي په نزد دا هم قبول دے که د انسان سر پکښې لاړ شي. سر له تنه جدا کېدل هستي د نيست سره مخ کېدل دي ، ولې عاشق ته چې په دغه کار سکون او خوښي ترلاسه کېږي نو بيا د افاديت پسندو په نزد ئې جواز شته ځکه چې بې د سکون او خوښۍ د ژوند معنا او ارزښت نۀ پاتې کېږي. دغه شان يو بل شعر:

د دلبـر د خاک پـايې بـرابـر نۀ دي
که شاهد د هند څګل ، د چين ماچين شه

(د دولت لواڼي ديوان: ۱۱۴)

څګل اصل کښې چګل (Chigil) دے چې د ترکستان د يوې قبيلې او په دغه نسبت د يو ښار نوم دے ۔ د اوسېدونکيو ښايست او غشي ويشتل (تيراندازي) ئې خاص شهرت لري ۔ ماچين/مهاچين/عظيم چينايي قديم رياست چې د اوسني چين سره تړلے شوے دے چې ښاپېري او ښايست ئې شهرت لري۔ د محبوب د پښو د خاورې برابر نۀ دي۔ ګويا دلته شاعر باقاعده سودا کوي ، تقابل کوي او د محبوب د پښو خاورې ځکه اخلي چې سکون او خوښي ورته پکښې ښکاري او دا اصل کښې د افاديت پسندۍ فلسفيانه توضيح ده چې سمدستي او په حاضر وخت کښې انسان له په څه کښې ګټه ده ، د هغې انتخاب بايد وۀ کړي۔ خو که بل اړخ ته وۀ ګورو نو د افاديت پسندۍ تر نظر لاندې د ښايسته و بې وفايۍ په ترخ کښې ئې د دوي سره مينه څنګه بېهوده څيز ګڼلے دے:

رنګ او بوي د وفايۍ ورسره نشته
بېهــوده پــه ګلـو مينه بلبلان کا

(د دولت لواڼي ديوان: ۱۱۹)

دولت دلته نغده سودا غواړي ، وفا ، مينه او تپاک غواړي چې د خوشحالۍ ، سوکالۍ او سکون سوب دي او چې دا ورسره نشته نو تش ښايست ، تش جلال او جمال ، شان او شوکت باندې ئې څه کوي او دغه نکته مونږ د افاديت پسندۍ په پېژندګلو کښې اولنۍ نکته ګڼلې ده۔

په غفلت مې مزدوري کړله مزدور وم
اوس د کل جهان باچا بنده د رب شوم

(د دولت لواڼي ديوان: ۱۲۷)

اې په مال منصب مــغروره!
د دين دنـيا مــــزدوره!
ســرګردان پسې جاروځې
ځان دې خوار که بې شعوره!

(د دولت لواڼي ديوان:۱۵۳)

علم ، ادراک او شعور د اهميت خبره کوي ، دا هغه توکي دي چې انسان له ګټه راوړي ، انسان په تکليف او مصيبت کښې کمے راولي ، انسان د عظمت په لوړے مقام متعين کوي ، انسان د ستر او عظيم مقصد د پاره چمتو کوي۔ د انساني ټولنې دپرمختګ سوب ګرځي۔

بل ځاے کښې په انسان کښې د عزم ، ارادې او نيت د استقامت ، محکمتيا ، تسلسل په اړه خپل نقطه نظر وړاندې کوي او د انساني عظمت نخښه ئې ګڼي:

د کامـل استقامــت لــوے کـرامات وي
چې ئې پښه له ځايه پېش و پس نۀ فشرده

(د دولت لواني ديوان:۱۲۸)

د امام غزالي په خيال استقامت يو ډېر مشکل کار دے ، کوم خلق چې د خپلې ارادې او هوډ په ترخ کښې مستقيم پاتې شي ، ثابت قدم پاتې شول نو ګويا هغه د صراط په پل باندې هم تګ کولے شي (۱۳).

د دولت شاعري لکه څنګه چې متقدمينو ښکاره کړې او لوستلې ده ، د تصوف ، مذهب ، وعظ، نصيحت او اخلاقياتو نه جوړه شوې ده ، خو د جديدې فلسفې بېلابېل تصورات (لکه مونږ چې پکښې د افاديت پسندۍ يادونه وۀ کړه) پکښې شتون لري. د دې مطالعې يوه فايده مونږ دا وينو چې خپلو لوستونکيو ته دا وښئيو چې د فلسفې دارنګې تصورات نۀ خو د مغربي فلسفې دي ، نۀ بېګانه او پردي دي ، دا ټول تصورات د انساني ټولنې د محسوساتو نه رازېږېدلي دي او په دغه انداز دا د انسانانو مشترک ميراث ګڼل پکار دي.

افاديت ، افادي ، افاده ته که هر څو د فلسفې په نړۍ کښې د يو بل اړخ نه کتل کېږي ، ولې د يو ترقي پسند انسان په توګه داسې ګڼلے شم چې دا اصطلاحات د مارکسي فلسفې سره نسبت لري. د انسان يا ټولنې معاشي نظام د بلې کومې فلسفې نه زيات مارکسزم په پام کښې نيولے دے. د ډېرو نه ډېرو ګټه ، فرد ته د اجتماعي ګټو په وړاندې قرباني ورکول ، د فرد/ذات په نسبت د اجتماع/ټولنې ګټې ته اهميت ورکول ، د غم ، درد او تکليف په بدل کښې د انساني ټولنې د خوشحالۍ ، امن او سکون په لور بوتلل د مارکسي فلسفې بنيادي نکات دي ، نو په دغه لحاظ د افاديت (Utilitarianism) لمنې د مارکسي فلسفې سره جختې لګېږي او مونږ چې د دولت په شاعرۍ کښې د افاديت د کومو نمونو لوستنه وۀ کړه ، هغه د هر ترقي پسند شاعر سره مونږ لوستے شو.

# حوالې


1. https://www.etymonline,com/word/utilitarianism, Acc date: 16/12/2023,
2. Julia Driver, The History of Utilitarianism, In The Stanford Encyclopedia of Philosophy, ed. Edward N. Zalta, 2014, https://plato.stanford.edu/archives/win2017/entries/utilitarianism-history/, Acc. date: 18/12/2023
3. افادیت لفظ کے معانی, https://.rekhtadictionary.com/meaning-of-ifaadiyat, Acc date: 17/12/2023
4. یاسر جواد ، نظریات کی مختصر تاریخ ، جہلم ، بک کارنر ، جون ۲۰۲۲، ص:۳۵
5. Frank Aragbonfoh Abumere, Utilitarianism (Chapter 5), in Introduction to Philosophy: Ethics, Editor: George Matthews, Rebus Community, Available on https://press.rebus.community>utilitarianism.... , Acc date: 18/12/2023
6. Missal Brook, Duty, Kant, and Deontology, in British Journal of General Practice, PMC PubMed Central, Vol. 63, Issue. 609, April 2013, p.211
7. J. J. C. Smart, An Outline of a System of Utilitarian, Ethics, in Utilitarianism for and Against, ed: J. J. C. Smart and Bernard Williams, Cambridge University Press, 1973, p.49, Available on www.combridge.org, Acc. date: 18/12/2023
8. The Impartial Point of View, in Stanford Encyclopedia of Philosophy Editors: Edward N. zalta, Uri Nodelman, Colin Allen and others, Available on www.plato.stanford.edu/entries/impartiality... , Acc Date: 07/01/2024
9. رشاد ، عبدالشکور ، پوهاند ، دولت لواڼے او دري نیم سوه کاله پخوا د هغه عروضي نظمونه (سریزه) ، مشموله: د دولت لواني دیوان ، دانش خپرندویه ټولنه ، دوهم چاپ ۲۰۱۲، مخونه: ۱۵ نه تر ۱۸
10. نعیمی ، غلام مصطفی ، رازداری کی اهمیت اور همارا معاشره ،دهلی ، اردو محفل ـ روشن مستقبل ، تاریخ نشر ۱۴ اگست ۲۰۲۱ ، Available on: https://www.google.com/amp/s/urdumefil.net/2021/08/14/%25D8
11. هم دغه حواله
12. G. Rota, S. Palumbo and Others, Harm Aversion Explains Utilitarian Choices in Moral Decision-making in Males But Not in Females, in Archives Italiennes de Biologie, A Journal of Neuroscience, Universita di Pisa, Vol. 154, Issue, 2/3, 2016, p.51
13. اکرام الحق ، استقامت : ایک ضرورت ، مکالمہ چیف ای‌ڈیٹر انعام رانا ، تاریخ اشاعت: ۱۲ نومبر ۲۰۱۷ ، تاریخ تلاش : ۲۰ جنوری ۲۰۲۴ Available on: https://www.mukaalima.com ,